# د علي محمد مخلص تصوفي او عرفاني مقام

**لیکوال:** پوهنیار سراج احمد حبیبي[١]

**لنډیز**

علي محمد مخلص، د پښتو ادبیاتو د منځنۍ دورې د لومړي پړاو شاعر دی. د دې پړاو بنسټګر د روښاني تصوف لوی مرشد او باني بایزید روښان دی. بایزید روښان هغه شخص دی چې په پښتو ادبیاتو کې‌یې د لومړي ځل لپاره یو منظم تصوفي او عرفاني ښوونځی رامنځته کړ. د دې ښوونځي ټول اصول او فرامین د پیر روښان د ټولو مریدانو په شعرونو او نثري آثارو کې بیان شوي دي. خو هغه څه چې د پیر روښان د نورو مریدانو په پرتله علي محمد مخلص ته د امتیاز پګړۍ ور پر سر کولای شي، هغه دا دي چې ده د روښاني تصوف ډېرو داسې مسائلو ته هم نغوته کړې ده، چې نورو یې د بیانولو هڅه نه ده کړې او یا یې که کړې هم ده، د شریعت او مذهب له وېرې یې کتمان پکې کړی دی؛ خو علي محمد مخلص پرته له کومې تورنې او کتمان د روښاني تصوف ټول مسائل په ډېر تفصیل سره بیان کړي دي. پر همدې اساس که څوک په روښاني تصوف څه لیکي، نو د علي محمد مخلص دیوان دوی ته داسې ډېر څه ور په ګوته کولای شي چې د نورو روښانیانو په دیوانونو کې یې په اړه معلومات نه لیدل کېږي.

**آر ویونه:** علي محمد مخلص، روښاني تصوف، وحدت‌الوجود او وحدت‌الشهود.

غالب (فصل‌نامهٔ علمی – پژوهشی پوهنتون غالب)
سال هشتم نشراتی، سلسلهٔ بیست‌وهفتم، شمارهٔ دوم، زمستان ۱۳۹۸

---

[١] د هرات پوهنتون د علمی غړی.

**سريزه**

علي محمد مخلص، د پير روښان په مريدانو او پلويانو کې، د يوه ځانګړي فکر څښتن دی، له بده مرغه چې تر اوسه پورې پښتنو څېړونکو په هغه شکل سره چې لازمه وه او ده، د ده له فکر څخه د ابهام پرده نه ده پورته کړې؛ د دې کار ښايي ډېر لاملونه وي، خو ما ته يې تر ټولو لوی لامل دا ښکاري، چې د روښاني تصوف د نورو ګروهمنو غونډې د علي محمد مخلص د ژوند او حالاتو په اړه هم تر دې دمه ډېر معلومات نه ؤ، کوم ديوان يې چې راپاتې ؤ هغه هم يوه خطي نسخه وه او ډېرو وګړو ورته لاس رسی نه درلود، له نېکه مرغه چې په دې وروستيو کې د ده د ديوان بشپړ متن هارون چاپ کړ، چې په دې سره اوس هر څوک کولای شي چې د ده ديوان ته لاس‌رسی ولري. پر هم‌دې اساس اوس پر هر پښتو څېړونکي لازمه ده چې د ده د فکر د سمندر ټولې نايابه او سوچه مرغلرې راوباسي او د پښتو لوستونکو او مينه‌والو مخ ته يې کېږدي.

ما په دې مقاله کې په روښاني تصوف کې د ده د ځای او مقام په ګوته کولو کوښښ کړی دی او تر ډېره بريده مې تکيه د ده د نوي چاپ‌شوي ديوان په شعرونو کړې ده، تر څو په دې توګه له اول لاس موادو څخه لوستونکو ته د ده په اړه معلومات ورکړم؛ خو دا معلومات به بيا هم (مشت نمونهٔ خروار) وي، لوستونکي کولای شي چې د ده ديوان پيدا او ولولي، تر څو د روښاني تصوف د دې ربښتيني استازي د فکر څخه لا ښه خبر شي.

په اوس وخت کې، تر ډېره د معنوياتو په پرتله مادياتو ته ډېر ارزښت ورکول کېږي، په تېره هم ځوان‌نسل خو په دې ماشيني دور کې ښځې د مادياتو ظاهري جاه و جلال ډېر جذب کړی دی، دغه ډېر جذب پر ځای د دې چې ده ته ګټه ورسوي، دی يې مضطرب او د روحي مړاويتوب سره مخامخ کړ. د دغو اضطراب د ختمېدو لپاره اړينه ده، چې داسې څه ورته وليکل شي، چې دی بېرته معنوياتو ته چې په سر کې يې دين، مذهب او تصوف راځي مخه کړي؛ ځکه معنويات او په تېره بيا مذهب، دين او تصوف الله سبحانه و تعالی د انسان د دنيوي او اخروي خير ښېګنې لپاره رالېږلي دي. نو د دغې مقالې ارزښت ښايي په هم‌دې کې وي چې په لوستلو سره به يې لوستونکی وکولای شي چې د علي محمد مخلص نه په الهام سره خپل دين، مذهب او تصوف ته مخه کړي، تر څو په دې توګه د يوې سوله‌ييزې او آرامې ټولنې په جوړښت کې خپل مثبت رول ولوبوي.

د دغې مقالې موضوع که څه هم تر ډېره بکره ده او چا په هغه شکل سره چې لازمه وه کار نه دی ورباندې کړی، خو بیا هم ځینو څېړونکو په خپلو آثارو کې ورته نغوته کړې ده، د بېلگې په توگه د کابل پوهنتون استاد پوهندوی ډاکټر اجمل ښکلي په خپل کتاب «تصوف او ادب» کې د علي محمد مخلص تصوفي او عرفاني افکارو ته نغوته کړې ده، ما هم په خپل کتاب «عرفاني ادبیات» کې تر استاد ښکلي نه یو څه په تفصیل سره د ده پر تصوفي او عرفاني افکارو بحث کړی دی، خو دا بحث په هیڅ صورت سره بشپړ نه گڼل کېده، ځکه هلته یوازې د ده د ځینو تصوفي او عرفاني شعرونو شننه شوې وه، پر هغو شعرونو یې بحث نه ؤ شوی چې د ده فکر د نورو روښاني شاعرانو نه بېلوي. ځکه دی تر ډېره په روښاني شاعرانو کې هم د یوه ځان‌گړي فکر څښتن دی، چې د دې مقالې د لوستلو په ترڅ کې به یې تاسو ښاغلو لوستون‌کو ته هم د فکر دا ځان‌گړتیا څرگنده شي.

د دې څېړنې اصلي موخه دا ده: د علي محمد مخلص هغه تصوفي او عرفاني افکار لوستون‌کو ته ور په گوته شي چې د روښاني دورې د نورو شاعرانو په شعرونو کې نه لیدل کېږي.

د دې مقالې له لیکلو څخه فرعي موخه دا ده چې: له لوستون‌کو سره د روښاني منظومو متونو په لا ښه څرگندتیا او وضاحت کې مرسته وکړي؛ ځکه دا ډول متون تر ډېره پېچلي او پر تصوفي او عرفاني افکارو مالامال دي.

په دې وړه مقاله کې هڅه شوې ده چې لاندې پوښتنو ته ځوابونه وموندل شي:

۱. آیا علي محمد مخلص هم د نورو روښاني شاعرانو په لاره تللی دی؟

۲. هغه کوم څه دي چې علي محمد مخلص ته یې پر نورو روښاني شاعرانو امتیاز ورکړی دی؟

علي محمد مخلص تر ډېره د نورو روښاني شاعرانو په لاره نه دی تللی، هغوی ټولو یوازې په تصوف او عرفان کې هغه څه بیان کړي دي، چې دوی ته د دوی د مرشد او پیر بایزید روښان له‌خوا نه، ویل شوي وو، خو علي محمد مخلص د بایزید روښان د افکارو د څرگندولو ترڅنگ د نور تصوف په اړه هم خپل افکار څرگند کړي دي.

د دې څېړنې ډول کتاب‌توني او میتود یې تشریحي ـ تحلیلي دی.

**علي محمد مخلص**

علي محمد مخلص، د روښاني تصوف او طريقې يو مخلص پليونی او پيرو دی، د ده د نوم له يادېدو سره، سم وار له وار د سړي ذهن ته (حال‌نامه) راځي؛ *حال‌نامه* هغه اثر دی چې د روښانيانو د ژوند ټول حال او احوال پکې بيان شوي دي، پر دې اثر که څه هم د لومړي ځل لپاره پير روښان کار پيل کړی دی، مگر علي محمد مخلص په ډېر اخلاص سره له سره ترتيب او د پير روښان د کورنۍ ټول احوال يې پرې اضافه کړي دي (حبيبی؛ ۱۳۸۴: ۷۰۲).

مخلص د دې اثر ترڅنگ په پښتو کې بله منثوره رساله هم لري، دا رساله يې د استاد زلمي هېوادمل له خوا د کابل مجلې د ۱۳۶۷ کال په ۱ـ ۲ گڼه کې چاپ شوې ده (کرگر؛ ۱۳۸۵: ۱۹۶).

علي محمد مخلص، د ابابکر کندهاري زوی او د استاد زلمي هېوادمل د وينا له مخې يې ژوند تر (۱۰٦٨) هجري قمري کال پورې يقيني دی. د ده بشپړ ديوان په ۱۳۹۴ هجري شمسي‌کال د محمد هارون خپل شعشعي په تصحيح او سريزې سره چاپ شوی دی (حبيبی؛ ۱۳۹۸: ۱۷۲).

ده په خپل دې ديوان او نورو خورو ورو ليکنو کې د روښاني تصوف په خپرولو کې تر نورو روښاني شاعرانو نه ډېر کوښښ کړی دی (ښکلی؛ ۱۳۹۴: ۱۱۷). نو پر هم‌دې اساس د ده د امتياز حق هم تر نورو روښاني شاعرانو نه په دې برخه کې ډېر دی.

**د روښاني تصوف مقامات او د مخلص شاعري**

په روښاني تصوف کې د يوه سالک منزل ته د رسېدو لپاره د (شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت)، په نومونو آته مقامه ټاکل شوي دي، دا مقامات په اصل کې څلور دي او څلور نور يې د څلورم مقام (معرفت) د مقام برخه دي، موږ به دا آته واړه مقامونه په لاندې ډول د علي محمد مخلص د شعري بېلگو سره يو ځای ستاسو ښاغلو لوستون‌کو مخې ته کېږدو:

**۱. شريعت:** د روښاني تصوف د شريعت په مقام کې مريد بايد د اسلام پر پنځو بناوو پابند و اوسي، د الهي کلام او نبوي مبارکو احاديثو پر ټولو ارشاداتو عمل وکړي. له غلا، زنا، غيبت او نورو ناوړه اعمالو څخه ځان وژغوري. علي محمد مخلص د دې مقام په اړه وايي:

شريعت ثابت کلام د پيغمبر شه      د روښان ياد په ثابت کلام بلند دی

چې بنیاد د شریعت یې محکم نه وي          د عرفان دې عمارت باندې هراس دی
(غروال؛ ۱۳۹۵: ۲۰۶)

د شریعت د مقام صفت توبه ده، چې د علي محمد مخلص په لاندې بیت کې ورته اشاره شوې ده:

د توبې مقام اول دی، لوی تایب آدم مُرسل دی          چه توبه یې شوه له غیرو، شه فلاح له خجالته
(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۸)

د دې مقام صف بیا د آدم (ع) صف دی، په دې اړه هم د مخلص په لاندې بیت کې راځي:

دا منزل د شریعت دی، تایب پاک له معصیت دی          د آدم صفي پر صف شه، رهنمای شو له مضلته
(هغه: ۳۰۸)

**۲. طریقت:** طریقت هغه مقام دی چې په هغه کې د فرښتو خوی او خصوصیات په مرید کې پیدا کېږي. په دې مقام کې سالک د نفس مطابعت چې د انسان خوی او خصلت دی پرېږدي او خاص د الله سبحانه و تعالی طاعت او عبادت په هغه شکل سره کوي، په کوم ډول سره چې فرښتو کاوه.

سیف‌الرحمن مسعود، پخپل کتاب «پیر روښان او روښاني» انقلاب کې د طریقت د مقام په اړه دا هم لیکي چې: «د طریقت په مقام کښې په سالک د څلورو عالمونو پېژندل دي. دا څلور عالمونه عبارت دي د زړه د عالم نه چې د فرښتو عالم هم ورته وایي د روح د عالم نه د نفس د عالم نه او د شیطان د عالم نه» (۱۳۷۷: ۱۲۴).

د طریقت د مقام صفت (عبادت) دی، په دې اړه د مخلص په لاندې بیت کې لولو:

عبادت د ووم مقام دی، د عابد بهشت انعام          په اخلاص دی عبادت که، مخلص خلاص له ملامته
(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۹)

د دغه مقام صف بیا د ادریس(ع) صف دی، چې د مخلص په لاندې بیت کې یې په اړه راځي:

دا منزل د طریقت دی، د مُرسل افعال طاعت دی          د ادریس پر صف به پاځې، شي ناجي له بطالته
(هغه: ۳۰۹)

**۳. حقیقت:** په دې مقام کې تر ډېره پر دې تأکید شوی دی، چې سالک به خفي ذکر کوي، تر څو له ریا او ځان‌ښودنې څخه پرې ژغورل شوی وي. ځکه ریا او ځان‌ښودنه په تصوف او

عرفان کې له روحاني مدارجو څخه د پاتې کېدو لامل ګرځي. علي محمد مخلص د حقیقت د مقام په اړه وایي:

حقیقت زاهد ذاکر دی چې له غیره کل طاهر　　چې نفی یې غیری غوځ کړه د نفی لار په صلته

(غروال؛ ۱۳۹۵: ۲۰۷)

د دې مقام صفت (زهد) دی، په دې اړه د مخلص په لاندې بیت کې راځي:

دی دریم مقام د زهد دی، دی سخت جبل د اُحد　　شه رسته چه پاس پر وخوت، د کافر نوس له صولته

(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۹)

دغه راز د دې مقام صف د عیسی (ع) صف دی، چې په دې باب هم د مخلص په لاندې بیت کې لولو:

دا منزل د حقیقت دی، د نبیو ښه حالت دی　　په حشر به د عیسی شي، دی ناجي شي له غفلته

(هغه: ۳۰۹)

**۴. معرفت:** د معرفت مقام د الله سبحانه و تعالی د پېژندنې او شناخت مقام دی. په دې مقام کې سالک په هر څه کې د الله سبحانه و تعالی د انوارو تجلیات او ځلاوې ویني؛ نو ځکه موږ له دې مقام څخه په (وحدت‌الشهود) باندې هم تعبیر کولای شو. علي محمد مخلص د دې مقام په اړه وایي:

چې پټ ګنج د معرفت یې په لاس کښېوت　　په ازل وه د مخلص بخره فیروزه
چې جلوه د معرفت پرې باندې وشوه　　د عارفو زړه ښایسته شوله نوروزه

(غروال؛ ۱۳۹۵: ۲۰۷)

د دې مقام صفت «صبر» دی، په دې اړه مخلص په خپل لاندې بیت کې وایي:

څلورم مقام د صبر، دی شه تریخ لکه مصبر　　صابران په بلا خوښ دي، فریاد نه که له علته

(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۹)

دغه راز د دې مقام صف د ایوب (ع) صف دی، په دې اړه هم د مخلص په لاندې بیت کې راځي:

دا منزل د معرفت دی، په هر حال کښې یې رویت دی　　په تهپه به د ایوب شي، د صابرو له حالته

(هلته)

**۵. قربت:** دا مقام او له دې وروسته درې نور مقامات چې تشریح کېږي، ټول د معرفت د مقام توضیح او تشریح ده، په دې مقام کې سالک له هر څه څخه د حق سبحانه و تعالی آواز اوري او دغه آواز باید د هغه تبارک و تعالی آواز وګڼي. علي محمد مخلص په دې اړه وایي:

د دې زړه د غوږ پرده به دې شي لرې — که د هو تسبیحات ونغوړې له چنګه
چې یې فهم په تسبیح د هر آواز وي — و عارف ته هر آواز بانګ نماز شي
(غروال؛ ۱۳۹۵: ۲۰۷)

د روښاني تصوف د دې مقام صفت (رضا) ده، په دې اړه د مخلص په لاندې بیت کې لولو:

د رضاء مقام پنځم دی، دی راضي په ښادي، غم دی — په قضا د حق راضي شه، په راحت هم له ذلته
(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۹)

د معرفت د مقام صف د موسی (ع) صف دی، د مخلص په لاندې بیت کې په دې اړه ویل کېږي:

دا منزل د قریبان دی، د قربت ښښتن حیران دی — د موسی پر صف به پاڅي، دایم خوښ دی له صلته
(هلته)

**٦. وصلت:** د وصلت مقام د روښاني تصوف بل مقام دی، په دې مقام کې سالک خپل ځان الله سبحانه و تعالی ته سپاري. لیدل، اورېدل، خوړل، ښښل، بویول او نور خپل ټول بشري حواس د هغه تبارک و تعالی تر ارادې پورې موقوف ګڼي. د وصلت د مقام په اړه د علي محمد مخلص په لاندې بیتونو کې راځي:

په هیڅ لور حق به بیا نه مومي بې ځایه — په طلب یې که ډېر سترې شي له تګه
نحن اقرب الیک پیغام واوره — حق په ذات صفات نږدې دې له شه رګه
(غروال؛ ۱۳۹۵: ۲۰۸)

د وصلت د مقام صفت (شکر) دی، چې د مخلص په لاندې بیت کې ورته نغوته شوې:

دی شپږم مقام د شکر، لوی نعمت دی دایم ذکر — د شاکر نعمت مزید شه، دی شاکر صاحب دولته
(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۹)

صف یې بیا د نوح (ع) صف دی، چې په دې اړه هم د مخلص په لاندې بیت کې لولو:

دا منزل د واصلان دی، د وصلت نعمت کلان دی — په تپه به د نوح پاڅي، حظ به مومي له وصلته

(هلته)

**۷. وحدت:** د وحدت په مقام سالک د خپلې هستۍ احساس نه‌کوي او خپله هستي د حق سبحانه و تعالی په ذات کې محو ګڼي، پر هم‌دې اساس د هغه تبارک و تعالی عبادت هم ورته شرک ښکاري. علي محمد مخلص د دې مقام په اړه وايي:

د مخلص په زړه د ذات تجلی وشوه — د مقصود څېره یې ولیده حضوره

پر مخلص د بایزید مسکین نظر ؤ — چې یې زړه شو د توحید د دُر خریطه

(غروال؛ ۱۳۹۵: ۲۰۸)

د وحدت د مقام صفت (محبت) دی، چې د مخلص په لاندې بیت کې ورته اشاره شوې:

اووم مقام د محبت دی، مُحب تل خلاص له محنت دی — هر چار په محبت که، خلاص د تن له خصالته

(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۰۹)

صف یې بیا د ابراهیم (ع) صف دی، چې مخلص په لاندې بیت کې ورته نغوته کړې:

دا منزل د موحد دی، موحد مخلص له ضد دی — دی پر صف د ابراهیم شي، شه نجات له جهالته

(هلته)

**۸. سکونت:** په دې مقام کې د سالک روح آرام مومي، غوږونه، سترګې، پزه هر څه د حرامو له اورېدو، لیدو، او بویولو نه فارغ وي، یعنې بې له خدایه د هیڅ څېز احساس هم نه کوي. د سالک بدن که په ظاهره هر څه کوي، اثر یې روح ته نه رسېږي. سالک ته حکم دی، چې تر مرګ د مخه ځان ووژني. روح یې په دې دنیا کې د بدن له قیده آزاد دی، بدن خوځي او روح ساکن وي. علي محمد مخلص د دې مقام په اړه وايي:

نن صفت د مسکین ونسه مخلصه! — چې یې خوی د مسکین ونیوه مسکین شه

(غروال؛ ۱۳۸٦: ۲۰۸)

د سکونت د مقام صفت «معرفت» دی، په دې اړه هم مخلص وايي:

مقام اتم د معرفت دی، دی مسکین په سکونت دی — چه قرار پر سکونت شه، ساکن خلاص شه له رحلته

(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۱۰)

دغه راز د دې مقام صف د محمد مصطفیﷺ صف دی، په دې باب هم د مخلص په لاندې بیت کې لولو:

د مسکین خوی د احد دی، دی پر صف د محمد دی له صورته گوشه شوی، دی واقف شه له عزلته
(هلته)

دا وو د علي محمد مخلص هغه بیتونه چې د روښاني تصوف تول آته مقامونه یې د نورو روښاني شاعرانو په پرتله په یوه ځانګړي متفاوت انداز کې بیان کړي دي، متفاوت انداز یې ځکه بولو چې په روښاني شاعرانو کې دی یوازینی شخص دی چې د دغو مقاماتو صفونه او صفتونه یې هم په خپلو شعرونو کې بیان کړي دي. اوس به راشو د ده د هغو شعرونو سپړنې او څېړنې ته چې ده په کې خپله د وحدت الوجود مفکوره په ډېره واضح توگه بیان کړې ده. په دې برخه کې هم د ده د بیان طرز رندانه او شوخ دی، هغه خبرې چې نورو روښاني شاعرانو د ملایانو له وېرې په لفافو او کنایو کې کړې دي، ده په ډېرو واضحو الفاظو کړې دي.

**وحدت‌الوجود او وحدت‌الشهود**

د روښاني تصوف ټول شاعران د وحدت‌الوجود د نظریې لرون‌کي دي، پر دې نظریه که څه هم تر ډېره د شریعت علما د رد مهر لگوي، خو بیا یې هم د اسلامي تصوف په ځینو طریقو کې گروهمن او عقیدتمندان موجود دي.

د دې نظریې لرون‌کي عقیده لري چې پرته له الله سبحانه و تعالی څخه بل هیڅ شی موجود نه دي او دا څه چې موږ ته موجود ښکاري، دا په اصل کې هیڅ وجود نه لري، بلکې دا هسې زموږ یو توهم او خیال دی؛ علي محمد مخلص په دې اړه وایي:

که د زړه سترگې بینا کړې وبه گورې موجود نشته بې مولا په هر دیار مخ
(خویشکی؛ ۲۰۱۶: ۱۷۹)

د دې بیت څخه واضح څرگندېږي چې علي محمد مخلص په کائناتو کې له یوه خدایﷻ پرته بل هیڅ څه ته پر وجود قایل نه دی.

د وحدت‌الوجود د نظریې په غبرگون کې بله نظریه د وحدت‌الشهود نظریه ده، د دې نظریې پلویان بیا د اشیاوو وجود هم مني او د هغوی په وجود کې د یوه خدای تعالی ننداره کوي؛ لکه د علي محمد مخلص په لاندې بیت کې چې ورته اشاره شوې ده:

کل اشیا مثال ارسي مظهر د حق دي په هر څه کښې مخلص گوري د خپل یار مخ
(هلته)

د پورتني اختلاف تر څنګ د وحدت‌الوجود او وحدت‌الشهود د نظريو پلويان تر ډېره په لاندې نورو مسايلو کې هم د نظر اختلاف سره لري:

## عينيت او غيريت

وحدت‌الوجوديان د الله سبحانه و تعالی صفات د هغه تبارک و تعالی پر ذات زايد نه ګڼي، بلکې عين ذات يې بولي. خو وحدت‌الشهوديان يې بيا زايد بولي، نه د الله سبحانه و تعالی له ذات سره عين؛ علي محمد مخلص په خپلو لاندې بيتونو کې په ډېرو واضحو الفاظو سره د وحدت‌الوجود نظريه پالي او وايي:

د واحد په ذات، صفات کښې بيوره نشته — د واحد پر ذات زايد صفات ناچيزه
چه صفات پر ذات زايد ګڼي جاهل دی — په تميز، عقل کښې کم دی له کنيزه
(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۳۷۹)

## احاطه او محيط

د وحدت‌الوجوديانو په اند خدای ﷻ د قران عظيم‌الشان د دې مبارک آيت «... وَكَانَ اللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيطًا» (د النساء سورت / ۱۲۶ آيت)، او دې ته ورته ډېری نورو شرعي نصوصو پر بنسټ پر اشياوو ذاتي احاطه کړې ده؛ لکه علي محمد مخلص چې وايي:

هر ذره يې احاطه کړه — حق محيط په ذات، صفات شه
(هغه: ۱۹۱)

طبيعي خبره ده، کله چې يو شی پر بل شي احاطه وکړي، ترې لاندې شی چاته نه ښکاري او د وجود احساس يې ناشونی وي. نو ځکه وحدت‌الوجوديان وايي: چې «همه اوست»، يعنې پرته له الله ﷻ ﺷﺨﻪ چې پر مخلوق يې احاطه کړې، د بل هيڅ شي وجود نشته.

## د علي محمد مخلص شاعري او عرفاني نومونې

**۱. قبض او بسط:** قبض د عارف د روح ودرېدل او بسط يې غوړېدا او بېرته کېدل دي (روښان؛ ۱۳۹۶: ۴۸). دې عرفاني نومونې ته علي محمد مخلص په لاندې بيت کې نغوته کړې:

قبض و بسط د حق په لاس کښې دي باور کړه — دغه زړه ګه با نوا ګه بېنوا شه
(مخلص؛ ۱۳۹۴: ۴۱۳)

**۲. نفې او اثبات:** د نفې معنا ده غیرالله له خپل زړه او فکر نه لرې کول او ارزښت نه ورکول او اثبات یو خدای ﷻ اثبات رسولو ته ویل کېږي. او یا «نفې» د تصوف په اصطلاح له بدو صفتونو نه ځان خلاصول، خپله هستي فنا کول او د غیریت ټول اعتبارونه او حجابونه لرې کول دي او یا د شهادت د کلمې د «لا اله» یا «لامعبود الله» نه تر «لا موجوده الا الله» پورې تلل دي. علي محمد مخلص وایي:

په هر څه کښې به تابان ګورې د یار مخ — په دا لا نفې نفې کړه د اغیار مخ
بدګمان د غیریت تر میان غبار دی — شرک غبار کړه بر طرف ګوره اظهار مخ
(هغه: ۱۷۸ ـ ۱۷۹)

**۳. درویش:** هغه چا ته ویل کېږي چې د خدای تعالی په انوارو کې غرق وي او له غیرالله څخه مستغني وي (روښان؛ ۱۳۹٦: ۱۳۵). دا عرفاني نومونه علي محمد مخلص په خپل لاندې بیت کې داسې ذکر کوي:

تل درویش فقیر بیدار وي و سحر ته — په دا وقت فایده رسېږي و اکثر ته
(هغه: ۳۱۳)

**۴. ماسوی:** له خدای تعالی څخه پرته بل هر څه (روښان؛ ۱۳۹٦: ۲۲۹). دې عرفاني نومونې ته مخلص په لاندې بیت کې داسې نغوته کوي:

عار له ماسوی کړه — غیرو واړو پسې شا کړه
(هغه: ۱۸۱)

**۵. جاهل:** هغه چا ته ویل کېږي چې حق تعالی نه پېژني او یا د اشیاوو په وسیله د هغه تبارک و تعالی پېژندنه کوي (روښان؛ ۱۳۹٦: ۱۰۱). علي محمد مخلص د دې عرفاني نومونې ذکر داسې کوي:

چه ژلی، یخې اوبه ګورې په ذات کښې — له دې دیده دی غافل جاهل محرومه
(هغه: ٤٦٦)

**٦. شوق:** د وجد په حال کې د زړه په تحرک سره د معشوق غوښتلو ته ویل کېږي. که معشوق و نه مومي، د سالک د زړه تحرک او د وجد حالت پای ته رسېږي، خو عشق یې لا هم د معشوق سره موجود وي (روښان؛ ۱۳۹٦: ۱۷۷). د دې عرفاني نومونې ذکر علي محمد مخلص په دې لاندې بیت کې په دې ډول سره کړی دی:

زه مشتاق نن د دیدار یم، طلبګار ستا د انوار یم ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ زه له شوقه بې اختیار یم، صبر څه غواړې لـه مـا
(هغه: ۲۱۵)

**۷. غیر:** یعنې ماسوا له الله، په غیر کې د لطیف عالم (نفس، عقل او روح) او د کثیف عـالم (خاوره، اوبه، باد، اور، نبات، حیوان، آسمانونه) راځي (روښـان؛ ۱۳۹٦: ۲۰۴). دا عرفـاني نوموني علي محمد مخلص په لاندې بیت کې په دې ډول سره راوړې ده:

دغـه زړه دی د مـولا حـرم یـاد شـوی ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ تـه پـه ذکـر غیـر دور کـړه لـه حریمـه
(هغه: ۴٦۷)

**۸. مظهر:** د میم په فتحې سره د ظهور هنداره او د میم په ضمې سره مطلق وجود تـه ویـل کېږي (روښان؛ ۱۳۹٦: ۲۳۸). د دې عرفاني نومونې ذکر د علي محمـد مخلـص پـه لانـدې بیت کې داسې شوی دی:

کُل اشیا د شه مظهر دي پر شپږ لوریـه ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ شه په هر څه کښـې ګویـا، شنوا بینـا دی
(هغه: ۳۷)

**۹. بلا:** خدایي ازموینښتونه (روښان؛ ۱۳۹٦: ۵۱)، د سیر الـی الله او وصـول الـی الله پـه لاره کې خنډ او یا هغه څه ته ویل کېږي چې د انسان توجه له خدای تعـالی څخـه بـل طـرف تـه اړوي (روښان؛ ۱۳۹٦:۷۰). د دې عرفاني نومونې ذکر مخلص په دې ډول سره کړی دی:

مؤمنـان پـه بـلا و آزمـي خـدای هســې ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ لکـه زر چـې و آزمـي پـه سرې سـکروټې
(هغه: ۴۸۰)

**۱۰. تلوین:** له یوه حـال نـه بـل حـال تـه د سالک تلـل (روښـان؛ ۱۳۹٦: ۹۰). دې عرفـاني نومونې ته نغوته مخلص په خپل لاندې بیت کې په دې ډول سره کړې ده:

د تلـوین اهـل دی لـــرې لـه بـــاوره ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ د تمکـین اهـل تېـر شـوی لـه تلوینـه
(هغه: ۴۷۲)

**۱۱. تمکـین:** تمکین د واصلانو حـال تـه ویـل کېـږي (روښـان؛ ۱۳۹٦: ۹۰). دې عرفـاني نومونې ته یې په لاندې بیت کې اشاره کړې ده:

تمکین تښتن طاعــت کـه پـه تصدیعه ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ ‏ د طاعـت تکلیـف ساقط شي لـه مسکینه
(هلته)

**۱۲. جمعیت:** په زړه کې د وسوسو لپاره ځای نه پاتې کېدل، جمعیت د تفرقه په مقابل کې دی (روښان؛ ۱۳۹٦: ۱۰٦). دا عرفاني نومونه مخلص په دې ډول سره په خپل شعر کې کارولې ده:

جمعیت یې د زړه بیا موند    چې یې خلاص له علایق که
(هغه: ۴۴۸)

**۱۳. دریاب:** هغه مطلقې هستي ته ویل کېږي، چې په نړۍ کې هر څه د هغه څپې دي (روښان؛ ۱۳۹٦: ۱۳۳). دې عرفاني نومونې ته اشاره د مخلص په دې بیت کې شوې ده:

یو زمان به له دیداره فارغ نه وي    چې یې فهم پر دریاب وي دم په دم
(هغه: ۲۷۸)

۱۴. **عرفان:** هغه لارې ته ویل کېږي، چې اهل الله یې د حق د پېژندلو لپاره غوره کوي (روښان؛ ۱۳۹٦: ۱۹۰). دې نومونې ته یې هم په لاندې بیت کې اشاره کړې ده:

حق عرفان لره پیدا که    دی د مال په حاصلول شه
(هغه: ۱۱۷٦)

**۱۵. اخلاص:** د زړه له تله او په پوره صداقت سره د الله سبحانه وتعالی عبادت کول دي؛ علي محمد مخلص د دې اصطلاح په اړه وایي:

چې یې غېرې په نظر کښې نه کښېووځي    موحد عارف خبر شه له اخلاصه
چې موجود یې ما سېوا وي په خاطر کښې    دا بد شرک غافل دورتر شه له اخلاصه
(هغه: ۲۳۷ ـ ۲۳۸)

په روښاني تصوف کې بشپړ «اخلاص» ته د «سکونت» په مقام کې سالک رسېږي، ځکه د دې تصوفي طریقې سرلارې او مرشد پیر روښان په خپل اثر خیرالبیان کې وایي:

«زما خوښي ده چې مې په یگانگۍ وپېژني لکه مخلص ادمیان یې د نوس د هوس او د نغتې د شیطان» (غزنوی؛ ۱۳۸٦: ۲۳۷).

**۱٦. معشوق:** د حق تعالی مطلق ذات، چې له بل هر څه څخه د دوستۍ ډېر مستحق دی (۸: ۲۳۳). مخلص دې عرفانې نومونې ته داسې نغوته کوي:

د دنیا محبوب چه مخ پټ که پنهان شه    دا معشوق دی په پرده کښې هویدا
(هغه: ۲۱۱)

**۱۷. ذکر:** د اسلامي تصوف په ټولو طریقو کې د الله سبحانه وتعالی د یاد او د دغه یاد پر مټ د زړه د صیقل کولو لپاره د «ذکر» اصطلاح مستعمله ده. علي محمد مخلص د دې اصطلاح په اړه وایي:

کــه د ذکــر پــه صـیقل زړه مصـفا کــړې　　　د غفلت لـه تـوره زنګـه بـه یـې جـلا کـړې
تجلــی بــه د ارواح دربانــدې وشــــي　　　بسـته در د معرفـت بـه پـه مـخ وا کـړې
(هغه: ۱۷۷)

په هم‌دې بیتونو کې غفلت، تجلی، ارواح او معرفت نور هغه اصطلاحات دي، چې په اسلامي تصوف او عرفان کې ځان‌ګړې معناګانې او مفهومونه لري، په روښاني تصوف کې خو بیا له دې ډلې څخه «معرفت» هغه ته یې حتی د مقام په سترګه هم کتل کېږي.

علي محمد مخلص په خپلو شعرونو کې ډېر ځایه د «ذکر» ډولونو ته هم نغوته کړې ده، مثلاً مسلمان صوفیان او عارفان ذکر پر دوو ډولونو باندې ویشي-، چې هغه یو خفي ذکر دی او بل جلي ذکر.

مخلص تر جلي ذکر نه خفي ذکر ته ترجیح ورکوي، ځکه دی دایم ذکر پر ژبه باندې ممکن نه ګڼي او وایي:

دایم ذکــر تل په ژبـه ممــکن نـه دی　　　په خـفي ذکــر مشــغول زنار شه پاڅه
د زړه ذکــر دی خفي حق پرې خبر دی　　　په پټ ذکر د خپل زړه غم خوار شـه پاڅه
(خویشکی؛ ۲۰۱۶: ۱۷۶)

پر دې سربېره علي محمد مخلص موږ او تاسو ته د «جلي» او «خفي» شرک اصطلاحات هم په خپلو شعرونو کې روښانوي، په حقیقت کې که چېرته په ژور نظر ورته وګورو، همدغه اصطلاحات دي چې د صوفیانو او فقهاوو ترمنځ یې یو فکري ټکر هم رامنځته کړی دی، د بېلګې په توګه ریا او ځانښودنه که څه هم په اسلامي شریعت کې ډېره بده ګڼل شوې ده، مګر په تصوف او عرفان کې بیا هغه بېخي خفي شرک ګڼل کېږي، په شریعت کې بیا د خفي شرک په نامه کومه اصطلاح نه تر سترګو کېږي.

په اسلامي تصوف او عرفان کې شرک په عامه توګه پر دوو ډولونو وېشل کېږي، چې هغه یو خفي شرک دی او بل جلي.

د جلي شرک په اړه خو تر ډېره بریده متشرعین او متصوفین یوه خوله دي او دواړه ډلې د جلي شرک هغه تعریف وړاندې کوي، کوم چې په اسلامي شریعت کې د شرک په اړه راغلی دی؛ چې هغه د الله سبحانه وتعالی سره په ذات او صفاتو کې شریک پیدا کول دي.

خفي شرک بیا صوفیان هغه ډول شرک ته وایي، چې یو څوک ماسوا الله یا غیر الله په خپل ذات کې موجود وګڼي. پر همدې اساس صوفیان کوښښ کوي، چې فنا في الله او بقا في الله ته ورسېږي، تر څو خپل ټول بشري صفات نفې او یوازې یو الله اثبات ته ورسوي. علي محمد مخلص وایي:

چې په علم د توحید یې باور وشه — هغه خلاص شه د بد شرکه له لوی ذمه
چې هستي د ځان جدا ګڼي له حقه — په خفي شرک مبتلا دي نا محرمه
له خفي شرکه به پاک خلاص شي مخلصه — چې یې څاڅکی له دریاب سره که ضمه
(خویشکی؛ ۲۰۱٦: ۱۷۰)

**پایله**

د پایلې په توګه ویلای شو چې علي محمد مخلص د پښتو ادبیاتو په منځنی دوره کې یو مخکښ متصوف او عارف شاعر دی، د ده په شعرونو کې د اسلامي تصوف او په ځانګړې توګه د روښاني طریقې ټول مسایل په ډېره ښکلې او واضحه توګه بیان شوي دي.

دی که څه هم په اسلامي تصوف او عرفان کې د وحدت الوجود د نظریې ګروهمن دی، خو په شعرونو کې یې ځای ځای د وحدت‌الشهود د نظریې څرکونه هم لیدل کېږي.

کوم څه چې ده ته د نورو روښاني شاعرانو په پرتله ډېر امتیاز ورکوي هغه دا دي چې ده په خپلو شعرونو او نثري لیکنو کې د روښاني تصوف د خپرولو لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، هغه څه چې نورو روښاني شاعرانو د شریعت او مذهب له ویرې نه دي بیان کړي او یا یې بیانولو ته زړه نه دی ښه کړی، هغه علي محمد مخلص په خپلو شعرونو کې په ډېر خلاص مټ سره بیان کړي دي، پر همدې اساس کله کله ترې د هنر او شعریت رنګ هم تت شوی دی، خو دا په دې معنا هم نه ده چې د ده شعرونه چورلټ هنري تومنه او شعریت نه لري، بلکې په دې برخه کې هم تر ډېرو نورو روښاني شاعرانو نه بریالی دی.

**اخځلیکونه**

۱ـ قرانکریم.

۲ـ حبیبي، سراج احمد. (۱۳۹۸). **عرفاني ادبیات**. هرات. قدس: خپرندویه ټولنه.

۳ـ حبیبي، عبدالحی. (۱۳۸۴). د **پښتو ادبیاتو تاریخ**. دویم ټوک. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴ـ خویشکی، مهجور. (۲۰۱٦). **روښاني تصوف**. پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي. جدون پرنټنګ پرېس.

۵ـ روښان، بایزید. (۱۳۹٦). **خیرالبیان**. د معصوم هوتک سریزه، ترتیب، مقابله، سمون او لمنلیکونه. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

٦ـ ښکلی، اجمل. (۱۳۹۴). **تصوف او ادب**. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۷ـ غروال، محمد عارف. (۱۳۹۵). **د پښتو ادب په پرمختیایي بهیر د روښاني غورځنګ اغېزې**. کابل: د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست. صدف مطبعه.

۸ـ غزنوي، هیله من، عبدالباقي. (۱۳۸٦). **فرهنګ عرفاني**. کابل: مؤسسه انتشارات خاور.

۹ـ کرګر، محمد اکبر. ( ۱۳۸۵). **په حال‌نامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره**. دویم چاپ. پېښور: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه. دانش خپرندویه ټولنه.

۱۰ـ مخلص، علي محمد. (۱۳۹۴). **د علي محمد مخلص دیوان**. د محمد هارون خپل شعشعي اوډنه، سمونه، مقابله، سریزه، لغوي زېرمه او زیاتونې د اطلاعات او فرهنګ وزارت. کابل: د آزادۍ مطبعه.

۱۱ـ مسعود، سیف الرحمن. (۱۳۷۷). **پیر روښان او روښاني انقلاب**. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار.